# ځوک چې د قدر شپه پر هغې د ایمان لرلو او ثواب په نیت - په عبادت - کې تیره کړي، د هغه تېر ګناهونه به وبخښل شي

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: "څوک چې د قدر شپه پر هغې د ایمان لرلو او ثواب په نیت - په عبادت - کې تیره کړي، د هغه تېر ګناهونه به وبخښل شي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله علیه وسلم په عبادت سره د قدر د شپې تېرولو له فضیلت څخه خبر ورکوي؛ کومه چې د رمضان د میاشتې په وروستیو لسو شپو کې ده، او دا چې چا پکې - په لمونځ کولو، دعاء، قرآن کریم لوستلو او ذکر کولو سره - زیار وویست، پداسې حال کې چې - د قدر په شپې او هغه څه یې چې په فضیلت کې راغلي دي - ایمان ولري، او په عمل سره يې د الله څخه د اجر لاسته راوړلو هیله وي؛ نه ځان ښودنه او شهرت، نو یقینا چې هغه انسان ته به د هغه ټول مخکني ګناهونه وبخښل شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4202